صالح محمد فطرت
۲۰۱۸/۰۳/۱۲

# آیا دا لمانځني کوم درد دوا کولای سي؟

کله چي ښځه یادومه نو سمدستي مي مورکی سترګو ته دریږي، مهرباني سترګي یې، د موسکا ښایسته خوله، هغه د محبت نه ډک غیږه او هغه پاسته لاسونه او لنډه دا هغه شیبه مي حتی یادیږي چي کله زه د ځان نه حتی خبر نوم او فقط په دې پوهېدلم چي څنګه شودې ورودم او بس خو د مور مینه مي احساسوله او په دې پوهېدلم چي راته خاندي او په ډېره مهربانی ما په غیږه کي اخلي او په ډېر ناز د خپلو پاکو شودو په واسطه زما وجدان خړوبوي او د انسانیت نیالګی زما د شرافت په ځمکه کي کري او په پاکو او سپېڅلو شودو یې اوبه کوي.

زه تل دا خبره کومه چي ښځه هغه عظیم الشأن موجود ده چي فقط او فقط همدا ښځه ده چي انسان د انسانیت و هغه نقطي ته اوچتوي چي د انسان ګومان هم ورته عاجز وي. دا د علم ستوري چي د غرب او شرق نه خلک و انسانیت و دایري ته رابولي له ستر خوشحال بابا نه نیولی بیا تر ستر مولانا او سعدي او جمال الدین افغانی او افغان هوکو ګل پاچا الفت او د فرانسي هوګو او همداسي شکسپیر او بالزاک او داستایوفسکي او په زرګونو نور د ادب ستوري دا ټول د هغه زانګو نه دا د انسانیت عظیم درس اخیستی چي د سپېڅلي مور په پاکو او وریښمینو لاسونو ښوروړل سوي ده، نو همدا علت ده چي د هر لاربښوونکي ستایل په خپله د مور ستاینه ده او کومي ځانګړي ورځي پوري تړلي نده.

پوښتنه دا ده چي زما په غمځپلي هېواد کي آیا دا لمانځني کومه پایله به ولري او کنه، آیا په دومره کلونو کي چي دا ورځ لمانځله کیږي کومه مثبته او اغېزمنه کټه یې درلودلي ده؟ آیا یوائي دا چي مور د لویدیځوالو د خوشحالولو په موخه د پولیسو او یا ملي پوځ په لیکو کي د ښځو د ځای پر ځای کولو کي د دوی حق ورکړی؟

موږ افغانان یو او د خپلي خاورې په هکله باید وغږیږو او تر ټولو رومبی باید خپلي ستونزې حل کړو، همدا دی چي زه دا پوښتنه کوم چي موږ دا ادعا لرو چي موږ افغانان سخت غیرتمن یو او په خپل ناموس سر ورکوو او دا کوو او هغه کوو، خو د عمل په ډګر کي بیا وینو چي د خپلي ښځي سر خریو، غوږ یې پرې کوو، پزه یې غوڅوو، لاس یې ورماتوو، خبرو ته یې غوږ نه ږدو، د کور او کهول په چارو کي خو بیخي دا داسي ده لکه یو شخصي غلام او نوکره چي وي.


این عمل سرم آور را خود حدس بزنید



فرخنده در حال سوختن


شاعرهٔ شهید نادیه انجمن



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

آیا چا له ځان نه دا پوښتنه کړې چې همدا غیرت او همت ده چې د داسې یو موجود سره چې هغه شفقت ته اړتیا لري، او همدا موجود زموږ مور ده او بالاخره داسې یو غیر انساني چلند ورسره وسي؟

راځئ چې یو وارې دا وګورو چې زموږ دین د دې عظیم الشان موجود په هکله څه وایي او کوم مقام یې ورته ورکړی:

الله پاک فرمایي:



لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَوَاتِ وَالْرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَاثاً وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ الذُّكُورَ   أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَاناً وَإِنَاثاً وَيَجْعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيماً إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ



دلته که تاسو ځیر شی، ګوری چې الله پاک د اولاد د ورکولو چې یو عظیم نعمت دی، اوله کې ذکر کوي چې که هر چاته وغواړي نو **لور** ورکوي. د کلام الله شریف آیات، عبارات او حروف په داسې یو عظیم الشان او عالي او د اعجاز نه ډک شکل رانازل شوي چې هره نقطه کې یې یو لوی حکمت موجود دی. دلته تقدم د لور په زوی باندې په ذکر کولو کې یو ستر راز پروت دی او هغه دا ده چې دا نجلی ده چې لوی مقام لري نه هلک، خو موږ بیا د خپل دین برعکس سوچ او فکر لرو.

رسول علیه اسلام فرمایي که، که چیرې یو څوک درې نجونې په انساني او اسلامي تربیت لویې کړي نو ماسره به په محشر کې یو ځای ولاړ وي او خپلو مبارکو ګوتو په واسطه دا حالت یې تشریح کړل، بیا یې وویل چې که دوې نجونې وي نو هم همدا حالت به ولري او بالاخره یې وفرمایل چې که تاسو د یوې نجلی د لویولو پوښتنه وکړئ نو هغه به هم همدا درجه ولري.

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي چې هغه کور کې چې نجلی ماشومه تولد سي، د الله رحمتونه په هغه کور اوري.

د مور د مقام په هکله چې تر پلار درې وارې لوړ مقام لري، تولو مسلمانانو ته ډېره واضحه ده .

یوه ورځ حضرت بي بي خدیجه رضی الله عنها په داسې حال کې چې غوښتله د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته ډوډۍ راوړي چې جبرئیل امین راغی او رسول علیه السلام ته یې عرض وکړو چې الله پاک زه تاسو ته راولیږلم او الله پاک په حضرت بي بي خدیجه رضی الله عنها باندې سلام وایي. دا مقام بل چاته نده ورکړ سوی.

د حضرت عایشه صدیقې مبارکې د ستر مقام په هکله او د هغې د پاکلمنې او عزت او جلال په هکله مکمل سورت نازل شوی.

لنډه دا چې اسلام یواځینی دین دی چې د ښځو حقوق په ډېر عالی شکل یکې خپل ځای لري چې بل دین او مذهب د هغه سره نسي جوګه کیدلای. لویدیځ دود او دستور هېڅکله نسي کولای د ښځو د حقوقو په هکله یوه ښه او مؤثره نسخه وي، د ښځو د حجاب او عزت او کرامت په وړاندې دریدل هېڅکله هم د ښځو د حقونو د اعاده کولو معنی نه ورکوي، بلکه برعکس دا یو ستر ظلم او ستره جفا ده چې لویدیځوال یې مرتکبین دي.

د اسلام د سپېڅلي دین عالمان مسؤلیت لري چې د ښځو د حقه حقوقو په هکله قرآني او نبوي ارشادات کلیو او بانډو ته ورسوي، هم نارینه او هم ښځې په اسلامي احکامو باندې سمبال کړي.

په ښوونځیو کې له وړوکتوب نه د ابتدایي ټولګیو نه حتی دا سلسله د اسلامي تربیت پیل سي، د والدینو احترام او په خاصه توګه د مور احترام، او د نجونو مقام او منزلت او همداسې په لوړو ټولګیو کې او پوهنتونونو کې د ښځو د حقوقو په هکله د اسلام د سپېڅلي دین احکام په منظم او سیستماتیک شکل تدریس شي، او همدا یوائځنی لاره ده چې دا کړېدلی قشر خپل حقیقي مقام په ټولنه کې پیدا کړي.

دا تشریفاتي لمانځني او لویدیځ دود زموږ د کړیدلي ولس درد نسي دوا کولای. په درنښته